# بې پروايي

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو
د روزنې معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

دریم ټولګی، لومړی سمستر، دویمه سویه



د آزمايښتي دورې مرستندوی توکي

پښتو

**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونكو
د روزنې معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
كتابونو د تاليف لوی رياست

# بې پروايي

د دريم ټولګي د اتمې اونۍ لپاره

پښتو
افغانستان

د لوستلو دا مرستندوی كتاب د «افغان ماشومان يې لولي» پروژې
په تخنيكي مرسته تأليف شوی دی

لیکوال: سرمؤلف امین الله نژند

ایډیټور: سرمؤلف محمد سهراب دیدار

انځورګره : بهشته محسني

**د تصحیح کمېټه**

**----**

اسلامي: ګل آقا شایق

کلتوري: غلام سرور ګلابزی

ژبنۍ: فروزان خاموش

بسم الله الرحمن الرحیم



په یوه ځنګله کې سویه، پړانګ
او غرخه اوسېدل.
دوی یو له بل سره خوارږه ملګري
وو.

په دې ځنګله کې يو لوی سړک او بازار و.
په بازار کې ډېر ښکلي او ښايسته دوکانونه وو.
هرڅه به له دې بازار څخه خوراکي شيان اخيستل.



سويې په بازار کې دوکان درلود.
د سويې بچي له مور سره په
دوکان کې مرسته کوله.

یوه ورځ د سویې بچی دوکان ته
رَوان و.
غوښتل یې له مور سره مرسته
وکړي.
هغه د سړک په منځ کې منډې
وهلې.
د پړانګ بچی ورته ناره کړه.
پام کوه چې په سړک منډه
وانخلې!
په سړک منډې وهل خطر لري.



د سويې بچي ورته غوږ ونه نيوه.

يو ګيدړ په باسيکل سپور و.

د سويې بچی يې وواهه.

د سويې بچی ژوبل شو.
د پړانګ بچی هغه کلینیک ته ورساوه.
ډاکټرې د سويې د بچي پښه پانسمان کړه.



ډاکټرې ورته وویل:

پښه به دې ښه شي.

ډاکټرې د سوېي بچي ته دوا

ورکړه.

ډاکټرې وویل:
دوا په خپل وخت خوره.
بیا په سړک منډې مه وهه.
د پړانګ بچی د سوېې بچی کور
ته ورساوه.
سوېې د پړانګ له بچی څخه مَننه
وکړه.
خپل بچي ته یې وویل:
بچیه، بیا داسې بې پروایي مه
کوه!

درسي کتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. پېرودل او پلورل يې په
کلکه منع دي. له سرغړوونکو سره به قانوني چلند وشي.